DA AFGHANISTAN BANK

**د افغانستان بانک**

د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت

د صرافیو او جواز ورکولو مرستیالیت

نېټه: ۲۹/۳/۱۴۴۷
۱۴۰۴/۱۹/۰۳

ګڼه: ۲۲۲۴ ........
۲۸۵۵ / ۲۱۰۳
۲۸۹۵

بسم الله الرحمن الرحیم

**د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو محترمو اتحادیو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد:

ماهیت: متحدالمال

**موضوع:** په ټولنیزو رسنیو کې د اسعارو تبادلې (پولي) په معاملو د بندیز په اړه

له ډېر درناوي وروسته؛

د دې اداري د ۴۷۲۳ ګڼې ۱۴۰۳/۰۸/۰۶ نېټې متحد المال په ذریعه د اسعارو نرخونو ټاکلو د بنه تنظیم لپاره د صرافیو او پولي خدمتونو اتحادیو ته هدایت شوی وو چې د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړې بازار د تنظیمولو کړنلارې مطابق د اسعارو نرخ ټاکلو ځانګړي بازارونه جوړ کړي او د دغو بازارونو سکرتریت ته د اسعارو د تبادلې نرخونو د نشر دنده سپارل شوي وه، لیدل کېږي چې تر اوسه د یادو بازارونو د رامنځته کیدو په برخه کې د قناعت وړ کړنې نه دي ترسره شوي، د ترلاسه شوو معلوماتو پر بنسټ، د اسعارو د تبادلې ډېري معاملې د ټولنیزو رسنیو ( واټس‌اپ، ټیلیګرام او نورو ټولنیزو رسنیو ) له لارې ترسره کېږي. په دې توګه، د صرافۍ او پولي خدمتونو ټولو شرکتونو ته خبر ورکول کېږي چې د اسعارو د تبادلې معاملې د مجازي شبکو او ټولنیزو رسنیو له لارې په مطلق ډول ممنوع دي او له سرغړوونکو سره به جدي اصوالي چلند وشي. سربېره پر دې، اړوندو اتحادیو ته یو ځل بیا په جدي توګه هدایت ورکول کېږي چې د اسعارو د تبادلې د ځانګړو بازارونو د رامنځته کولو په موخه بېړني او عملي ګامونه پورته کړي او دې ادارې ته په لیکلې بڼه داړ ورکړي.

د افغانستان بانک ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی. والسلام.

۱۴۴۷/۳/۴

صدیق‌الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

کاپي:

- د ریاست د دفتر محترم لوی آمریت ته (د افغانستان بانک د څانګو سره د شریکولو په پار)

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون ۲۱۰۴۱۴۶ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت: ov.af
شبکه‌های اجتماع: فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - AFGCentralbank@ / انستاګرام - GCentralbank